Community Resilience to Foreign Interference

# د بهرنۍ مداخلې بېلګې چې پر ټولنيزو سازمانونو اغېز کوي

ټولنيز سازمانونه د ټولنو په ملاتړ او شکل ورکولو، د پرېکړه کولو پر بهير اغېز ښيندلو او د بېلابېلو ډلو په نښلولو کې مهم رول لوبوي.

د ټولنيزو سازمانونو پراخې شبکې او پر باور ولاړې اړيکې لامل شوې ترڅو دوی د ټولنيزې رهبرۍ او تعاملاتو په برخه کې اصلي رول ولوبوي.

کله چې بهرنۍ مداخله يو ټولنيز سازمان **د پټو، جبري، غولوونکو يا فاسدونکو اقداماتو** له لارې په نښه کوي، کولای شي د هغه سازمان خپلواکۍ ته زيان ورسوي او د ټولنې د باور او ټولنيزې پيوستون د له منځه تلو لامل شي.

دا چاره همدا راز کولای شي چې امنيت، خونديتوب او د بيان آزادي او د ټولنو (انجمنونو) جوړول هم په خپله سازمان او هم په ټوله ټولنه کې له خطر سره مخ کړي.

**د مداخلې کوونکو بهرنيو هېوادونو لخوا په نيوزيلنډ کې د ټولنيزو سازمانونو د په نښه کېدو د څرنګوالي او د هغه په وړاندې د خوندي پاتې کېدو** په اړه [د لا زياتو مالوماتو لپاره، دلته ولولئ].

## د بهرنۍ مداخلې بېلګې چې پر ټولنيزو سازمانونو اغېز کوي

لاندې پر ټولنيزو سازمانونو باندې د بهرنۍ مداخلې د اغېزې درې بېلګې راوړل شوې دي. په دې بېلګو کې، «بهرنۍ هېواد» له نيوزيلنډ پرته بل هر هېواد ته ويل کيږي.

دا بېلګې د هغو تجربو او موندنو پر بنسټ تنظيم شوې دي چې د څو کلتوريز نيوزيلنډ سازمان - د نيوزيلنډ د څو کلتوريزو شوراګانو فدراسيون د قومي ټولنو له وزارت سره شريکې کړې دي. موږ د دې مطلب او «[د بهرنۍ مداخلې په وړاندې د ټولنيزو سازمانونو د خوندي کولو]» لارښود په چمتو کولو کې د هغوی له ارزښتناکې همکارۍ څخه مننه او قدرداني کوو.

لاندې بېلګې فرضي سناريوګانې دي چې ښيي کوم ډول فعاليتونه د ۱۹۶۱ کال د جرمونو د قانون پر بنسټ د بهرنۍ مداخلې په توګه ګڼل کېدای شي.

**دا عمومي مالومات دي. دا مالومات يوازې ستاسو د پوهاوي لپاره دي او حقوقي مشوره نه ګڼل کيږي. په ځانګړو مواردو کې د حقوقي مشورې ترلاسه کولو لپاره، له يوه وړ حقوقي متخصص سره خبرې وکړئ.**

Community Resilience
to Foreign Interference

## بېلګه ۱: د مديره پلاوي نوي غړي چې د يوه بهرني هېواد په استازيتوب عمل کوي

### څه پيښ شول

يو ټولنيز سازمان په هرو دوو کلونو کې يو ځل د خپل مديره پلاوي لپاره ټاکنې ترسره کوي. له خلکو سره د تعامل او کمپاين وروسته، دوه نوي غړي وټاکل شول.

دې دوو غړو له ټاکل کېدو وروسته، د خپل اصلي هېواد د حکومت د نيابتي عواملو په توګه کار کاوه. دوی د هغه بهرني هېواد د حکومت تر لارښوونې لاندې عمل کاوه او دا اړيکه يې په قصدي ډول له سازمان څخه پټه ساتلې وه.

دې دوو غړو په لوی لاس هڅه وکړه ترڅو ځينې ټولنيز مسايل چې د هغه بهرني هېواد له ګټو سره په ټکر کې وو، سانسور او وځپي. دوی خپل فعاليتونه د سازمان دننه د عادي پرېکړو په توګه ښودل، خو په حقيقت کې يې په غولوونکې توګه هڅه کوله چې د هغه بهرني هېواد د حکومت ګټې خوندي کړي. دوی همدا راز د مديره پلاوي هغه نور غړي چې مخالف نظرونه يې لرل، تر فشار لاندې ونيول او له هغه بهرني هېواد سره همغږي ليدلوري يې ترويج کړل.

کله چې د مديره پلاوي نورو غړو وويل چې دوی د ټولنې د غړو نظرونه منعکس کوي، هغو دوو غړو دوی وننګول او ويې پوښتل: «هغوی څوک دي؟» او د ټولنې د هغو غړو د شخصي او محرمو معلوماتو د وړاندې کولو غوښتنه يې وکړه. د مديره پلاوي نورو غړو پر دې شک چې نوي غړي ښايي د بهرني حکومت د نيابتي عواملو په توګه عمل وکړي، د دې معلوماتو له ورکولو څخه ډډه وکړه.

سازمان شکمن شو چې نوي غړي هغه بهرني حکومت ته خبرونه راپوروي؛ ځکه چې د مديره پلاوي په غونډو کې پر جنجالي مسايلو باندې له خبرو اترو وروسته، د مديره پلاوي نورو غړو په ټولنيزو شبکو کې بې نومه او ګواښوونکي پيغامونه ترلاسه کړي وو. دا غونډې د عامو خلکو يا د ټولنې غړو پر مخ خلاصې نه وې او تر بحث لاندې معلومات هم د عامو خلکو په واک کې نه وو ورکړل شوي.

**ولې دا مسله يوه بهرنۍ مداخله ګڼل کېږي؟**

يوه بهرني هېواد د خپلو نيابتي عواملو له لارې په پټه توګه د سازمان په دننه پرېکړو کې مداخله وکړه ترڅو هغه ليدلوري وځپي چې د دوی د هېواد له ګټو سره په ټکر کې دي.

د نظرونو د ځپلو په موخه قصدي اقدامات، د ټولنې د بيان آزادي کمزورې کوي.

د شخصي مالوماتو غوښتنه هم کولای شي د ټولنې د غړو پر امنيت اغېز وښيندي.

«*پراکسۍ يا نيابتي عوامل*» هغو کسانو يا ډلو ته ويل کېږي چې ډېری وختونه د نيوزيلند په دننه کې مېشت دي او د يوه بهرني دولت په استازيتوب داسې فعاليتونه ترسره کوي چې امنيت ته زيان رسوي.

Community Resilience
to Foreign Interference

## بېلګه ۲: د دې کنټرولولو هڅه چې څوک اجازه لري په یوه ټولنیزه غونډه کې ګډون وکړي

**څه پېښ شول**

یو ټولنیز سازمان په نیوزیلند کې د دې ټولنې د میراث، هویت او تاریخ نمانځلو لپاره د خپل کلني کلتوري فیستیوال د چمتو کولو په حال کې و.

یوه شخص چې ټولو هغه د یوه بهرني هېواد د استازي په توګه پېژنده، د دې پروګرام پر تنظیمونکو فشار راوړ ترڅو د ټولنې هغه غړي چې نظرونه یې د «هغه هېواد د ګټو خلاف» ګڼل کېدل، له دې پروګرام څخه لیرې کړي.

هغه شخص خبرداری ورکړ چې که تنظیمونکي دا غوښتنه ونه مني، هغه به د ټولنې نفوذ لرونکو مشرانو ته مراجعه وکړي ترڅو په ښکاره توګه پر دې سازمان نیوکه وکړي، منفي پیغامونه خپاره کړي او د ټولنې په دننه کې د سازمان موقعیت او اعتبار کمزوری کړي.

هغه بهرنی دولت پوهېده چې دا کار به له دولتي ادارو او نورو تمویلوونکو سازمانونو څخه د ټولنې پر بنسټ ولاړې بودیجې د ترلاسه کولو په برخه کې د سازمان پر وړتیا منفي اغېز وکړي.

سازمان پوه شو چې د دې ګواښونو موخه د دوی د پراخو ارزښتونو خلاف اقدام کولو ته د دوی اړ ایستل او د دوی د پرېکړه کولو په بهیر کې مداخله وه. سازمان د کسانو له لیرې کولو څخه ډډه وکړه، خو د خپل اعتبار احتمالي زیانمنېدو ته اندېښمن و.

**ولې دا مسله یوه بهرنۍ مداخله ګڼل کیږي؟**

یوه بهرني هېواد هڅه کوله چې د فشار راوړلو او د سازمان اعتبار ته د زیان رسولو د ګواښ له لارې، هغه پرېکړې اجباري کړي چې د سازمان د پراخو ارزښتونو سره په ټکر کې وې، او د ټولنې د غړو د ګډون پر څرنګوالي کنټرول ترلاسه کړي.

بهرني هېواد خپلو موخو ته د رسېدو لپاره په یوه ټولنیز سازمان کې مداخله وکړه چې د دوی د غچ اخیستونکو اقداماتو ګواښ، دا سازمان په نیوزیلند کې له بشپړ شتون او ګډون څخه راګرځوي.

## بېلګه ۳: د ټولنې د غړو شخصي مالوماتو ته د لاسرسي د وسیلې په توګه د مالي مرستو او ډالیو ورکول

### څه پېښ شول

یوه نوي ټولنیز سازمان د خپلې ټولنې په منځ کې د خپل ځایګي او نفوذ پیاوړي کول پیل کړل.

دې سازمان ته بلنه ورکړل شوه چې د خپل اصلي هېواد له سفارت سره لیدنه وکړي او دوی هم دا بلنه ومنله. دوی له دې امله خوښ وو چې فعالیتونو ته یې پاملرنه شوې وه او دا یې له سفارت سره د یوې مثبتې اړیکې د جوړولو لپاره یو ارزښتناک فرصت ګڼه.

په دې لیدنه کې دوی ته د دوامدار مالي ملاتړ او د دوی د هر غړي لپاره د ډالیو وړاندیز وشو. پر دې سربېره، دوی ته د سازمان له فعالیتونو څخه د سفارت د ښکاره ملاتړ وړاندیز هم وشو. دې ټولنیز سازمان د خپلو فعالیتونو په تړاو د سفارت له پاملرنې او هڅونې څخه مننه وکړه. د وخت په تېرېدو سره، د سازمان ځینې فعالیتونه پر دې مالي ملاتړ پورې تړلي شول.

له شپږو میاشتو تېرېدو وروسته، سفارت د ټولنې د هغو غړو د شخصي او محرمو معلوماتو غوښتنه وکړه چې دې سازمان ورسره همکاري کوله؛ او ویې ویل چې دا سازمان د ورکړل شویو ملاتړونو له امله دوی ته «پوروړی» دی.

دا سازمان د شخصي مالوماتو د وړاندې کولو لپاره تر فشار او ګواښ لاندې ونیول شو، خو له دې کار څخه یې ډډه وکړه. د سفارت ملاتړ ودرول شو، چې د سازمان پر ځینو فعالیتونو یې اغېز وکړ.

**ولې دا مسله یوه بهرنۍ مداخله ګڼل کیږي؟**

یوه بهرني دولت په لوی لاس له مالي مرستو او ډالیو څخه پر دې سازمان د فشار د وسیلې په توګه کار واخیست او بیا یې هڅه وکړه چې د ټولنې د غړو حساسو او شخصي معلوماتو ته لاسرسی پیدا کړي.

دا اقدام د معلوماتو راټولولو او د سازمان په پرېکړو کې د مداخلې لپاره یوه جبري هڅه وه، ترڅو خپله د هغه بهرني دولت موخې ترلاسه شي.